د افغانستان اسلامي امارت

د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې

او

ملي راډيو تلويزيون عمومي رياست

سره

د همکاريو هوکړه ليک

تفاهمنامه همکاری

میان

اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی

و

ریاست عمومی رادیـو تلویزیـون

ملی افغانستان

سال ۱۴۴۷ ه.ق مطابق ۱۴۰۴ ه.ش

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**سریزه:**

اَلْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى أَشْرَفِ ٱلْأَنْبِيَاء وَالْمُرْسَلِيْنَ وَعَلَى ءَالِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِيْن. و بعد؛

دا هوکړه لیک د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې او د افغانستان ملي راډیو تلویزیون عمومي ریاست ترمنځ د ځوانانو، په ځانګړې ډول د تخنیکي او مسلکي زده کړو د انستیتوتونو او مکتبونو د ګرانو محصلینو او شاګردانو ترمنځ د استعدادونو د ودې او سالمې سیالۍ د رامنځته کولو او د هغوی د لا زیات هڅولو په موخه د علم او پوهې د ترلاسه کولو او د هېواد د فرهنګي پرمختګ لپاره تر سره کېږي.

په دې هوکړه لیک کې به اړخونه د خپلو حقوقي او رسمي نومونو په بڼه یاد شي.

## موخې

**لومړۍ ماده:**

۱) د ملي راډیو تلویزیون په پروګرامونو کې د تخنیکي او مسلکي مکتبونو او انستیتوتونو د شاګردانو او محصلینو لپاره د لا زیاتې ګډون زمینې برابرول.

۲) د "تمرکز" تلویزیوني پروګرام د تولید له لارې د ځوانانو زده کړو او سالمې سیالۍ ته هڅول.

۳) د ملي راډیو تلویزیون له لارې د علم او پوهې په برخه کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د انستیتوتونو او مکتبونو د مخکښو شاګردانو، محصلینو او استادانو معرفي کول.

٤) د زده کړیزو راډیویي او تلویزیوني برنامو د محتوا د تولید او خپرولو له لارې د هېواد په پراختیا کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د رول په اړه د عامه پوهاوي د کچې لوړول.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**مقدمه**

اَلْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى أَشْرَفِ ٱلْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَعَلَى ءَالِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِيْن. و بعد؛

این تفاهم‌نامه میان اداره تعلیمات تخنیکی ومسلکی و ریاست عمومی رادیوتلویزیون ملی افغانستان بمنظور رشد استعدادها و ایجاد رقابت سالم میان جوانان به ویژه محصلان وشاگردان عزیز انستیتیوت ها و مکاتب تعلیمات تخنیکی و مسلکی و تشویق هرچه بیشترشان جهت کسب علم ودانش و اعتلاء فرهنگی کشور صورت می گیرد.

در این تفاهم‌نامه طرفین به اسم حقوقی و رسمی شان نام برده می شوند.

## اهداف

**ماده اول:**

۱) افزایش مشارکت شاگردان و محصلان مکاتب و انستیتیوت‌های تخنیکی و مسلکی در برنامه‌های تلویزیونی ملی تا ختم سال ۱۴۰۴.

۲) تشویق جوانان به آموزش و رقابت سالم از طریق تولید برنامه "تمرکز."

۳) تقویت همکاری نهادهای دولتی در راستای ترویج علم، مهارت و ارزش‌های فرهنگی از طریق رسانه.

۴) افزایش آگاهی عمومی در مورد نقش تعلیمات تخنیکی و مسلکی در توسعه کشور از طریق نشر محتوای مثبت و آموزنده.

## د اړخونو مکلفیتونه

### د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې مکلفیتونه

**دویمه ماده:**

تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د افغانستان د ملي تلویزیون له لارې د (تمرکز) تلویزیوني پروګرام د تولید په موخه لاندې موارد چمتو کوي:

۱) د هر پروګرام لپاره د (۶) تنو محترمو شاګردانو د ګډونوالو په توګه او د (۴۰) تنو ګرانو شاګردانو د مېلمنو او حاضرینو په توګه د رسمي وخت څخه بهر معرفي کول او استول.

۲) د اړتیا پر اساس له تخنیکي او مسلکي انستیتوتونو او مکتبونو څخه د ګډونوالو او حاضرینو انتخاب او معرفي کول.

۳) د هېواد په رسمي ژبو (دري او پښتو) د برنامې د تولید او نشر په پام کې نیولو سره د ګډونوالو معرفي کول او استول.

## مکلفیت های طرفین

### مکلفیت های اداره تعلیمات تخنیکی ومسلکی

**ماده دوم:**

اداره تعلیمات تخنیکی ومسلکی بمنظورتولید برنامه تلویزیونی ( تمرکز) ازطریق تلویزیون ملی افغانستان موارد زیر را فراهم می نمایـــد:

۱) معرفی واعزام (۶) تن ازشاگردان محترم به صفت اشتراک کننده و تعداد (۴۰) تن ازشاگردان گرامی به صفت مهمان و حضوریابنده خارج از تایم رسمی درهربرنامه.

۲) انتخاب ومعرفی اشتراک کننده گان وحضوریابنده گان حسب لزوم دید از انستیتیوت ها و مکاتب تخنیکی و مسلکی.

۳) معرفی واعزام اشتراک کننده گان با رعایت تولید ونشربرنامه به زبان های رسمی کشور ( دری وپشتو).

### د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون عمومي ریاست مکلفیتونه

**درېیمه ماده:**

۱) د برنامې د ثبت او د ګډونوالو او ګرانو حاضرینو د تنظیم لپاره د تالار او تخنیکي تجهیزاتو برابرول.

۲) د برنامې لپاره د ډیکور، سکریپټ، دعوت لیک او ډالیو چمتو کول.

۳) په اونۍ کې د یوې (۱) برنامې د نشراتي مهالوېش مطابق په زرین ساعتونو کې خپرول او د ورځې په جریان کې یې بیا تکرارول.

٤) د اعلاناتو او سوداګریزو اعلاناتو په شمول د هر پروګرام خپرول د (یو ساعت) لپاره.

٥) د نشراتي مهالوېش مطابق په اونۍ کې د یوې رسمي ژبې (دري او پښتو) له لارې د برنامې نشرول.

٦) د پروګرام د ګډونوالو او مېلمنو د تګ راتګ لپاره د ترانسپورټي وسایلو برابرول.

### مکلفیت های ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی افغانستان

**ماده سوم:**

۱) فراهم نمودن تالار وتجهیزات تخنیکی برای ثبت برنامه و تنظیم اشتراک کننده گان وحضوریابنده گان گرامی.

۲) تهیه دیکور، اسکرپت ، کارت دعوت وهدایا برا ی برنامه.

۳) ثبت وتولید یک برنامه در هفته و نشر آن در ساعات طلایی وتکرارآن درجریان روزمطابق جدول نشراتی.

۴) نشرهربرنامه برای ( یک ساعت) بشمول اعلانات بازرگانی و تجارتی.

۵) نشر برنامه مطابق جدول نشراتی درهفته به یکی از زبان های رسمی ( دری وپشتو).

۶) فراهم نمودن وسایط ترانسپورتی برای رفت وبرگشت اشتراک کننده گان ومهمانان برنامه.

## د هوکړه لیک عمومي موارد

**څلورمه ماده:**

۱) د برنامې د تولید، نشر، سوداګریزو اعلاناتو او سپانسرحق د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون عمومي ریاست پورې اړه لري.

۲) د برنامې محتوا به د اسلامي امارت د نشراتي پالیسی مطابق د علم او پوهې، دودونو او د هېواد د دیني او فرهنګي ارزښتونو په چوکاټ کې پلان شي او هر ډول تبعیض او سیاسي بحثونه به پکې ځای ونه لري.

۳) په هېواد کې د ټولو تخنیکي او مسلکي زده کړو انستیتوتونو او مکتبونو د هڅولو او تشویق په موخه، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره به هڅه وکړي چې د برنامې د ګډونوالو او حاضرینو په معرفي کولو او استولو کې د نوبت اصل مراعات کړي.

٤) په یوه میاشت کې څلور (۴) اړوندې برنامې په دوو (۲) ورځو کې تولید او په اونیز ډول د ملي تلویزیون له لارې خپرېږي.

۵) په دې برنامه کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو انستیتوتونو او مکتبونو نومونو خپرول سوداګریز اعلان نه ګڼل کیږي.

## موارد عمومی تفاهم‌نامه

**ماده چهارم:**

۱) حق تولید، نشر و اعلانات تجارتی و اسپانسر برنامه، مربوط به ریاست عمومی رادیوتلویزیون ملی افغانستان می باشد.

۲) محتوای برنامه طبق پالیسی نشراتی امارت اسلامی درمحدوده ای علم و دانش، عرف و سنن و ارزش های دینی و فرهنگی کشور برنامه ریزی شده و هرگونه تبعیض و بحث های سیاسی درآن جا نخواهد داشت.

۳) بمنظورتشویق و ترغیب تمام انستیتیوت ها و مکاتب تعلیمات تخنیکی و مسلکی درکشور، اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی سعی می نماید تا به صورت نوبت وار درمعرفی و اعزام اشتراک کننده گان و حضوریابنده گان برنامه اصل نوبت را رعایت کند .

۴) دریکماه چهاربرنامه مورد نظر در دو روز تولید و طورهفته وار ازطریق تلویزیون ملی به نشرمی رسد.

۵) نشراسمای انستیتیوت ها و مکاتب تعلیمات تخنیکی ومسلکی دراین برنامه اعلان تجارتی محسوب نمی گردد.

## متفرقه او وروستي احکام

### د اختلافاتو حل

**پنځمه ماده:**

د دې هوکړه لیک د تفسیر او تطبیق له امله د اختلافاتو او شخړو په صورت کې، یا هغه موارد چې په دې هوکړه لیک کې نه دي وړاندوینه شوي، موضوع به د اړخونو د خبرو اترو او موافقې له لارې حل او فصل شي.

## احکام متفرقه و نهایی

### حل اختلافات

**مادهٔ پنجم:**

درصورت بروز اختلافات و منازعات ناشی از تطبیق و تفسیر این تفاهم نامه و یا مواردیکه در این تفاهمنامه پیشبینی نگردیده، موضوع از طریق مذاکره و موافقه طرفین حل و فصل می گردد.

### د هوکړه لیک ژبه او نسخې

**شپږمه ماده:**

دا تفاهم لیک په دوو (۲) ژبو، دري او پښتو، په دوو (۲) نسخو کې ترتیب شوې چې دواړه مساوي اعتبار لري.

### زبان و نسخه های تفاهمنامه

**مادهٔ ششم:**

این تفاهمنامه به دو زبان دری و پشتو در دو نسخه ترتیب گردیده که هر دو از اعتبار یکسان برخوردار می باشند.

**د هوکړه لیک د اعتبار موده**

**اوومه ماده:**

دغه هوکړه لیک د لاسلیک څخه وروسته د پنځو کلونو لپاره اعتبار لري او د دواړو لوریو په توافق او خوښې سره د نوي کولو او تمدید شوني دی.

**د هوکړه لیک لاسلیک او پلي کول**

**آتمه ماده:**

دا هوکړه لیک په ( / /۱۴۴۷ ه ق) نیټه د ( / / ۱۴۰۴ ه ش) سره سم په آتو (۸) مادو کې ترتیب او د اړخونو له خوا منعقد شو او په خپله ټاکلې موده کې د اعتبار وړ دی.

**مدت اعتبار تفاهمنامه**

**مادۀ هفتم :**

این تفاهمنامه بعد از تاریخ انعقاد برای مدت (۵) سال مدار اعتبار می باشد و تمدید آن به توافق طرفین امکان پذیر می باشد.

**امضاء و انفاذ تفاهمنامه**

**مادۀ هشتم:**

این تفاهمنامه به تاریخ ( / /۱۴۴۷ه.ق) مطابق ( / /۱۴۰۴ه.ش) حاوی هشت ماده ترتیب و از سوی طرفین، منعقد و در میعاد آن قابل اعتبار می باشد.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لخوا

**مولوی غلام حیدر شهامت**

**د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري سرپرست**

( )

د افغانستان د ملي راډيو تلویزیون عمومي ریاست لخوا

**قاری محمد یوسف احمدی**

**د ملي راډيو تلویزیون عمومي ریاست رئیس**

( )

آمریت دفتر مقام

مدیریت عمومی اسناد و ارتباط

مُهر ثبت احکام

شمارۀ ثبت: ۳۳۹۳

تاریخ ثبت: ۱۴۴۷/۲/۱۷